هر هغه څه حسابيږي چې له تاسره يې خيانت کړی، ستا نافرماني يې کړې او دروغ يې درته ويلي، او هغوی ته ستا جزا ورکول هم حسابيږي

له عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی: أَنَّ رَجُلًا قَعَدَ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ لِي مَمْلُوكِينَ يَكْذِبُونَنِي وَيَخُونُونَنِي وَيَعْصُونَنِي، وَأَشْتُمُهُمْ وَأَضْرِبُهُمْ، فَكَيْفَ أَنَا مِنْهُمْ؟ قَالَ: «يُحْسَبُ مَا خَانُوكَ وَعَصَوْكَ وَكَذَّبُوكَ وَعِقَابُكَ إِيَّاهُمْ، فَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ بِقَدْرِ ذُنُوبِهِمْ كَانَ كَفَافًا، لَا لَكَ وَلَا عَلَيْكَ، وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ دُونَ ذُنُوبِهِمْ كَانَ فَضْلًا لَكَ، وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَوْقَ ذُنُوبِهِمُ اقْتُصَّ لَهُمْ مِنْكَ الْفَضْلُ»، قَالَ: فَتَنَحَّى الرَّجُلُ فَجَعَلَ يَبْكِي وَيَهْتِفُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَمَا تَقْرَأُ كِتَابَ اللهِ: {وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا}، الْآيَةَ»، فَقَالَ الرَّجُلُ: وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ، مَا أَجِدُ لِي وَلِهَؤُلَاءِ شَيْئًا خَيْرًا مِنْ مُفَارَقَتِهِمْ، أُشْهِدُكَ أَنَّهُمْ أَحْرَارٌ كُلُّهُمْ. يو سړی د رسول الله صلى الله عليه وسلم مخې ته کښناست او ويې ويل: اې د الله رسوله! زه داسې غلامان لرم چې راته دروغ وايي، راسره خيانت کوي، او نافرماني مي کوي، زه ورته کنځلې کوم او وهم يې، نو زما حال د دوی سره څنګه دی؟ ويې فرمايل: « هر هغه څه حسابيږي چې له تاسره يې خيانت کړی، ستا نافرماني يې کړې او دروغ يې درته ويلي، او هغوی ته ستا جزا ورکول هم حسابيږي، نو که چېرته ستا جزا د هغوی د ګناه په اندازه وي نو دواړه سره برابر دي، نه پرې ستا څه شته او نه يې پر تا څه شته، او که چېرته ستا جزا د هغوی له ګناه څخه لږه وي نو ستا لخوا ورسره نېکي ده او اجر يې شته، او که چېرته هغوی ته ستا جزا ورکول د هغوی له ګناه څخه ډېره وي نو د هغه زياتوالي په اندازه به د هغوی لپاره ستا نه قصاص واخېستل شي»، وايي سړی څنډې ته شو او په ژړا او چغو يې پيل کړ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: « آيا ته د الله تعالى کتاب نه لولې: {وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا}، الْآيَةَ»، يعني (او د قيامت په ورځ به مونږ ډېرې د انصاف تلې کېږدو، نو په هېڅ نفس باندې به هېڅ شی ظلم ونه کړی شي او که دا (عمل) د اوري د دانې په وزن وي مونږ به هغه راوړو او هم مونږ حساب کوونکي بس يو) نو سړي وويل: قسم په الله اې د الله رسوله! زه د ځان او هغوی لپاره لدې پرته بل څه غوره نه ګڼم پرته لدې چې هغوی ازاد کړم، زه تا ګواه ګرځوم پدې چې هغوی ټول آزاد دي.

[ضعيف دی] [الترمذي روايت کړی دی]

يو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او د خپلو غلامانو له کړنو څخه يې ورته شکايت وکړ او دا چې هغوی ورته په خبرو کې دروغ وايي، په امانت کې ورسره خيانت کوي، په کارونو کې ورسره دوکه کوي، او امر يې نه مني، او دی ورته کنځل کوي او وهي يې تر څو په ادب شي، نو د قيامت په ورځ يې د خپل حال په اړه ترې پوښتنه وکړه؟ نو هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د هغه څه حساب ورسره کيږي چې تا سره يې خيانت کړی، ستا نافرماني يې کړې او دروغ يې درته ويلي دي او ستا جزا چې هغوی ته دې ورکړې ده هم حسابيږي، نو که چېرته د جزا اندازه د هغوی له ګناه سره برابره شوه، نو ستا پرې هېڅ نشته او نه د هغوی پر تا څه شته، او که چېرته ستا جزا د هغوی له ګناه څخه لږه وه، نو ستا لپاره فضيلت او په اجر کې زياتوالی دی، او که چېرته ستا جزا د هغوی له ګناه څخه زياته وه نو جزا به درکړل شي، او زياتوالی به درڅخه واخيستل شي او هغوی ته به ورکړل شي، نو سړی په ځنډه شو او په لوړ غږ يې ژړل، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آيا ته د الله کتاب نه لولې - چې فرمايي - {ونضع الموازين القسط ليوم القيامة فلا تُظلم نفسٌ شيئًا، وإن كان مثقال حبة من خردل أتينا بها وكفى بنا حاسبين} [الأنبياء: 47]، يعني: (او د قيامت په ورځ به مونږ ډېرې د انصاف تلې کېږدو، نو په هېڅ نفس باندې به هېڅ شی ظلم ونه کړی شي او که دا (عمل) د اوري د دانې په وزن وي مونږ به هغه راوړو او هم مونږ حساب کوونکي

بس یو) او تلې به د خلکو تر منځه د انصاف لپاره کېښودل شي، نو سړي وویل: قسم په الله اې د الله رسوله! زه د خپل ځان او هغوی لپاره لدې هېڅ شي غوره نه مومم پرته لدې چې هغوی له ځانه څخه جلا او پرېږدم، زه تا ګواه ګرځوم چې هغوی ټول د الله د رضا لپاره آزاد دي، د حساب عذاب له وېرې.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65065